مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند
۲۰۱۸/۱۲/۱۵

# ته خیالیگره وې، له خیاله ډکه

**زموږ په کلي کې نری لاره د غره پر لوري**

**ته پرې روانه له جماله ډکه**

**ته خیالیگره وې، له خیاله ډکه**

**تا چې نه پاس کتل نه لاندې**

**قدمونو ته دې پام هم نه و**

**دا دې هم نه لیدل، هر پل لاندې دې**

**زما د بنو سرتیرې،**

**له وینو ډک زړگی مې**

**ستا د هر پل چوپیر ته**

**لاس په نامه ولاړ دي**

۲۰۱۸/۱۱/۰۲
هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ